
هفته واره رساله :357
WEEKLY BOOKLET:357



# فیضانِ ابوعطّار

PASHTO

- کټ به پهٔ هوا کېدلو
- آيا د امیرِ اهلِسنّت والد صاحب قادري وو؟
- د مدينې د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم په ابو عطار باندې کرم
- د ابو عطار وراثت

پیشکش:
المدینه العلمیه (دعوتِ اسلامی)
Islamic Research Center

# وړومبے دا ولولۀ

اللہ پاک پلار د اولاد پۀ سر باندې يو داسې سورے جوړ کړے دے د کوم چې مثال نه میلاویږي- چرته چې د مور غیرت د اولاد د پاره د شفقت "سر چینه" ده هلته پلار د سوري لرونکي وَني درجه لري، څوک چې سخت ازمیښت برداشت کوي، غم او درد برداشت کوي او د خپل اولاد د پاره مزدوري کوي او رزق ورله راوړي او پۀ هغوئي باندې يې خوري- اللہ پاک دې مونږ ته د خپل مور پلار د خدمت کولو توفیق راعطا کړي، د چا مور پلار چې وفات شوي دي اللہ پاک دې هغوئي اوبخښي او د هغوئي اولاد ته دې د خپل مور پلار د پاره د صدقۀ جاریې والا د نیکو کارونو توفیق عطا کړي-

پۀ مَدَني چینل باندې د کیدونکو د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د مختلفو مَدَني مذاکرو د سوال او جواب، د نورو پروګرامونو، مختلفو کتابونو او لیکونو وغیره پۀ رڼا کښې دا رساله پۀ نوم د "فیضانِ ابو عطّار" جوړه کړے شوې ده کومه چې د امیرِ اهلِسُنَّت د والدِ محترم پۀ 71 کلیزه پۀ 14 ذو الحج شریف کال 1445 هجری (2024) د دعوتِ اِسلامي د مجلس الـمدینةُ الـعلمیه (Islamic Research Centre) د شعبې "هفته وار رساله مطالعه" پۀ کوششونو مخې ته راغلې ده- د دې رسالې د لوستلو سره به د امیرِ اهلِسُنَّت د بابا جان پۀ باره کښې د معلوماتو حاصلولو سره سره د نیک والد د یو څو عادتونو پۀ باره کښې هم معلومات حاصل شي- د اِسلامي ورونړو او اِسلامي

خوئیندو دواړو د پاره به دا رساله یو شان فائده منده ثابت شي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ- د ثواب حاصلولو او د نیکئ د دعوت عام کولو د پاره دا رساله ښه ډیره عامه کړئ او ښې ډیرې نیکئ حاصلې کړئ-

طالبِ دعائے غمِ مدینه و بقیع و بے حساب مغفرت

ابو محمد طاهر عطاري مَدَني عفی عنه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# فیضانِ ابو عطّار

دُعائے خلیفۂ امیرِ اهلِسُنَّت: یا الله کریمه! څوک چې زما د نیکه بابا جان پهٔ سیرت مشتمله دا رساله " فیضانِ ابو عطّار " ولولي یا واوري، هغهٔ او د هغهٔ ټول خاندان نیک نـمونځ ګزاره او ربښتوني عاشقانِ رسول جوړ کړې۔

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

## د دُرُود شریف فضیلت

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

څوک چې پهٔ ما باندې یو ځل دُرود شریف رالیږي الله پاک او د هغهٔ فرښتے پهٔ هغهٔ باندې لس کرته دُرود (یعني رحمت) لیږي او څوک چې پهٔ ما باندې 10 کرته دُرود رالیږي الله پاک او د هغهٔ فرښتے پهٔ هغهٔ باندې 100 کرته دُرود (یعني رحمت) لیږي او څوک چې پهٔ ما باندې 100 کرته دُرُود رالیږي، الله پاک او د هغهٔ فرښتے پهٔ هغهٔ باندې زر [1000] کرته دُرود لیږي او د هغهٔ بدن ته به وور نه ورنزدې کیږي۔

(مطالع المسرّات ، ص: 119)

پڑھتا رہوں کثرت سے دُرُود اُن پہ سَدا میں
اور ذِکْر کا بھی شوق پئے غوث ورضا دے

(وسائل بخشش، ص 118)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# کټ به پهٔ هوا کيدلو

د کولــمبو (سري لنکا) د يو صاحب بيان دے چې هغوئي پهٔ پيرانِ پير، پيرِ دستګير حضرت شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه يو مئين ګَس وليدو خوک چې د حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه سره د منسوبې "قصيدهٔ غوثيه" عامِل وو- د هغوئي تعلق د پاکستان د مشهور ښار کراچۍ سره وو او هغهٔ به پهٔ "S.T.R صالح محمد" نومې فَرم (کمپنۍ) کښې پهٔ کولــمبو کښې نوکري کوله- هغهٔ به د هُغه ځائے پهٔ عالي شان حنفي ميمن جومات کښې د امام صاحب پهٔ غير موجودګۍ کښې پهٔ موقع ميلاويدو جُمعه هم ورکوله، هغوئي تر ډيرې مودې پورې د جومات انتظامونه سمبال کړل او د جومات د خدمت يــې ښه ډير سعادت حاصل کړو- الله پاک د هغوئي پهٔ خُله کښې داسې اثر کيښودو چې کله به هغهٔ پهٔ کټ کښې ناست وو او د "قصيدهٔ غوثيه" وِرد به يــې کولو نو د هغوئي کټ به د زمکې نه اوچتيدو-

د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِيۡن بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِيۡن صلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

آيا تاسو ته معلومه ده چې دا د غوثِ اعظم عاشق او د قصيدهٔ غوثيه عامل خوک وو؟ دا نيک انسان د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت، باني دعوتِ اِسلامي حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه والدِ محترم "حاجي عبدُ الرّحمان بن عبدُ الرّحيم

واړي والا" [1] وو- اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه چې کله په کال 1979ء کښې د خپل خورَئي "عبدُ القادر" د واده په موقع کولـمبو ته تشريف يوړلو نو د هغوئي [د مور د اړخ نه] د ترور خاوند "حاجي احمد پکهي (مرحوم)" هغوئي ته د هغوئي د والد صاحب د قصيدهٔ غوثيه د لوستلو په وخت د کټ د اوچتيدو والا واقعه بيان کړه-

چار پائی بھی قصیدہ سن کے ہوتی تھی بلند
پڑھنا ہے ایسا انوکھا والدِ عطار کا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د قصيدهٔ غوثيه تعارف

اے د غوثِ اعظم عاشقانو! دا قصيده مبارکه د حضور سيِّدُنا غوثُ الاعظم حضرت شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ترجمانه ژبه مبارکه ادا شوې ده او زمونږ په سلسلهٔ عاليه قادريه کښې د دې وِرد د ظاهري او باطني دولت د حاصلولو سبب دے، (بلکې د هرې سلسلې مُريد د دې نه فيض حاصلولے شي) د دې 29 اَشعار دي- د دې قصيدې مبارکې روزانه وِرد (يعني لوستل) ډير فائده مند دي-

1 ... د واړي والا ورورولى SURNAME دے-

## د ”قصیدهٔ غوثیه“ د لسو حرفونو پهٔ نسبت سره د قصیدهٔ غوثیه لس برکتونه

﴾1﴿ قصیدهٔ غوثیه د تسخیرِ خلائق (یعني د خلقو زړونه د ځان پهٔ لور د مائل کولو) د پاره ډیره فائده منده ده او د الله پاک د قُرب حاصلولو ذریعه ده-

﴾2﴿ د قصیدهٔ غوثیه لوستلو سره حافظه ښه کیږي-

﴾3﴿ د قصیدهٔ غوثیه لوستونکي ته د عربی پهٔ لوستلو کښې بصیرت حاصلیږي-

﴾4﴿ قیصدهٔ غوثیه چې د هر مشکل او سخت کار د پاره خلوینښت ورځې روزانه یو یو ځل ولولې نو اِنْ شَآءَ الله! کامیابي به نصیب شي-

﴾5﴿ قصیدهٔ غوثیه (چې پهٔ فریم کښې بنده کړي او) خوک یې د ځان مخې ته کیږدي (د پاره د دې چې نظر پرې پریوځي) او درې کَرته یې ولولې نو پهٔ بارګاهِ غوثیت کښې به مقبول شي او د حضور سیِّدُنا غوثِ اعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د زیارت شرف به ورته حاصل کړي،اِنْ شَآءَ الله-

﴾6﴿ د هر مرض او تکلیف د پاره درې کرته یا پینځه کرته لوستل فائده مند دي-

﴾7﴿ شَنډه (یعني بے اولاده) زنانه دې پهٔ چا صحیح لوستونکي باندې 41 یا 21 کرته قیصدهٔ غوثیه ولولي او اوبه دې پرې دم کړي او پهٔ بوتل وغیره کښې دې یې محفوظې کړي او د دې نه دې تر خلوینښتو ورځو پورې لږې لږې څښې نو حامِله به شي او د حُضور غوثُ الاعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه پهٔ برکت به یې ځوي نصیب کیږي،اِنْ شَآءَ الله-

﴿8﴾ قصيدهٔ غوثيه چې ولولې او تيل پرې دم کړې او د پيرياني ګس [يعني پهٔ چا باندې چې پيريان ناست وي] پهٔ بدن يـې ولګوې نو سرکشه پيريان به وتښتي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ-

﴿9-10﴾ د ظالِم نه د نجات حاصلولو د پاره هره ورځ لوستل پـکار دي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ! د هغهٔ نه به خلاصے بيامومئ او داسې به نور دښمنان هم ختم شي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ - (مجموعہ اعمالِ رضا، ص217 ، 219 ملخصاً)

بروزِ قیامت ہمیں اپنے جھنڈے
تلے دیجئے گا جگہ غوثِ اعظم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ابو عطار تعارف

د اميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د والدِ محترم نوم "حاجي عبد الرحمان بن عبدُ الرحيم" وو- هغوئي د پاک و هند د تقسيم نه مخکښې پهٔ کال 1908ء کښې د هندوستان د جُونا ګړه ښار پهٔ "کُتيانه" علاقه کښې دُنيا ته تشريف راوړلو- د اميرِ اهلِسُنَّت [د پلار د اړخ نه] نيکه بابا جان "عبدُ الرحيم" د ساده طبيعت او عاجزی مالک وو- هغوئي پهٔ يو سکول کښې استاذ وو-

## د الله پاک محبوب نوم

د اميرِ اهلِسُنَّت د والدِ محترم نوم "عبدُ الرحمان" وو او دا ډير مبارک نوم دے لکه څنګه چې د الله پاک خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي

صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے: "ستاسو پۀ نومونو کښې د الله پاک پۀ نزد د ټولو نه خوښ نوم عبدُ الله او عبدُ الرحمان دي۔"
( مسلم، ص 1178، حديث : 2 ۔ (2132))

## آيا د امیرِ اهلِسُنَّت والد صاحب قادري وو؟

د امیرِ اهلِسُنَّت د والدِ محترم حاجي عبدُ الرحمان مرحوم د نوم سره بعضې اِسلامي وروڼه "قادري" ليکي، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه پۀ دې باره کښې فرمائي: ما ته د والدِ محترم پۀ سلسلۀ قادريه کښې د بيعت يا د هغوئي د پير او مُرشِد پۀ باره کښې څۀ معلومات نشته، اوس د امیرِ اهلِسُنَّت څوک مشر ورور يا خور وغيره ژوندي نه دي کوم چې د دې خبرې تصديق وکړي البته د مشهورې محاورې "زبانِ خلق نقارۂ خدا" پۀ مِصداق ممکن ده چې هغوئي هم"قادري"وي لکه څنګه چې پۀ شروعِ کښې د حضور غوثِ پاک شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د قصيدۀ غوثيه پۀ باقاعدګۍ سره لوستل د هغوئي معمول بيان شو۔ و اللّٰهُ اَعلَمُ بالصّواب (او هم الله پاک ته صحيح خبره ښه معلومه ده۔)

## د مور پلار پاکستان ته راتګ

د پاکستان جوړيدو نه پس د هجرت کولو سره پۀ کړن شمير کښې پاکستان ته پۀ راغلو مسلمانانو کښې د امیرِ اهلِسُنَّت مور پلار هم شامل وو۔ پۀ شروع کښې تقريباً درې مياشتې پۀ حيدر آباد (سندھ پاکستان) کښې اوسيدل بيا د کراچۍ کهارادر علاقې بمبئي بازار (چرته چې امیرِ

اهلِسُنَّت دنیا ته تشریف راوړلو) لاړل- د امیرِ اهلِسُنَّت والدِ محترم پۀ یوه کمپنۍ کښې نوکري شروع کړه نو د هغې کمپنۍ یوه څانګه پۀ ''کولـمبو'' کښې هم وه او یو څو ورځې پس د هغوئي بدلي ''کولـمبو'' ته اوشوه-

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَـمَّد

## د ابو عطار طور طریقې او عادتونه

د امیرِ اهلِسُنَّت د ولادت نه اندازتاً یو نیم یا دوه کاله پس والدِ محترم پۀ جدّه شریف کښې وفات شو (تفصیلي واقعه یـې وروستو راځي) امیرِ اهلِسُنَّت چې کله لوئي شو نو د هغوئي یو ګاؤنډي د هغوئي د والد مرحوم پۀ باره کښې ډیر ښه تاثرات بیان کړل، هغوئي ووئیل چې ستاسو والدِ محترم حاجي عبدُ الرحمان مرحوم ډیر نیک او پرهیزګاره انسان وو- د هغوئي د سُنَّت مطابق یو موټے ګیره وه- اکثر به یـې نظر ښکته ساتلو او تللو- هغوئي به پۀ خبرو اترو کښې حدیثونه بیانول- امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: د والدِ محترم پۀ باره کښې مې پۀ کور کښې اوریدلي وو چې هغۀ ډیر سیدها ساده شریف انسان وو، د هغۀ نه به خلقو پۀ هیلو بهانو رقم اخستو او داسې هغۀ هیڅ جمع نه کړل-

تھے وہ حاجی اور نمازی باشرع تھی زندگی
تھا عقیدہ یا نبی کا والدِ عطار کا

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَـمَّد

## د خاندان تعارف

د امیرِ اهلِسُنَّت د والد مرحوم حاجي عبدُ الرّحمان د ورونړو او خوئیندو (یعني د امیر اهلِسُنَّت د ترونړو او تروریانو) د شمیرې یا نومونو وغیره په باره کښې هیڅ معلومات نشته البته د عبدُ الرّحمان مرحوم دري ځامان او دري لونړه وې- د ټولو نه د مشر ځوي نوم یـې عبدُ الغني وو، د مینځني ځوي نوم یـې عبدُ العزیز وو (تقریباً هم د شپږو میاشتو په عمر کښې وفات شوے وو) او د ټولو نه کشر ځوي یـې محمد الیاس قادري دے- دغه شان په دریو لونړو کښې یـې یوه لور په کولـمبو کښې اوسیدله او دوه په پاکستان کښې اوسیدلې- د مشرې لور نوم یـې "خدیجه بائي[2]"، د مینځنۍ لور نوم یـې "فاطمه بائي" او د ټولو نه د کشرې لور نوم یـې "زهره بائي" وو- امیرِ اهلِسُنَّت په خپلو خوئیندو ورونړو کښې د ټولو نه کشر دے، شاید چې په دې وجه د هغوئي مور بي بي به هغوئي د مینې نه په "بابو" نوم رابللو-

## د والد صاحب وفات

امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه په 26 رَمَضَانُ الْمُبَارَک 1369 هجری مطابق 12 جولائي کال 1950ء دنیا ته تشریف راوړے وو، په کال 1370 هجری مطابق 1951ء کښې د هغوئي والد صاحب د حج په سفر روان شو- هغه وخت به د امیرِ اهلِسُنَّت عمر تقریباً یو نیم یا دوه کاله وو، امیرِ اهلِسُنَّت

---

2 ... بائي په میمنی ژبه کښې د تعظیم لفظ دے لکه څنګه چې د نارینؤ د پاره بهائي د تعظیم لفظ دے-

د خپلې مشرۍ خور پهٔ حواله د والد صاحب د حج د سفر د پاره د روانیدو واقعه بیانوي چې زهٔ هم د خپل کور والؤ د نورو کسانو سره والد صاحب ته د الوداع (یعنې پهٔ مخه ښه) وئیلو د پاره ائیر پورټ ته تلے ووم- هُغه وخت حالات ډیر پر امن وو او د هوائي جاز بالکل خوا ته لکه څنګه چې نن سبا دلته د بس یا ټرین خوا کښې خلق ودریږي او مسافر رخصتوي، مسافرو ته به الوداع (یعنې پهٔ مخه ښه) وئیلے شوه- د والد صاحب د روانیدو پهٔ وخت زما تبه وه او زهٔ د یو ګلابي رنګ پهٔ کمبل کښې رانغښتے شوے ووم، چې لوئې شوم نو تر ډیرې مودې پورې به ما هُغه ګلابي شال (یعنې ګلابي کمبل) ته کتل پهٔ کوم کښې چې زهٔ رانغښتے شوے ووم او والد صاحب ته پهٔ مخه ښه وئیلو د پاره ائیر پورټ ته بوتلے شوے ووم-

## د مولانا حشمت علي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دُعا برکت

د عرب فضاګانو ته والد صاحب ورسیدو، د حج په ورځو کښې پهٔ مِنیٰ شریف کښې ډیره سخته ګرمه هوا راغله، د کومې په وجه چې ډیر حاجیان صاحبان وفات او ډیر بے درکه شول، د امیرِ اهلِسُنَّت والدِ محترم هم پهٔ بے درکه شوو کسانو کښې شامل وو، د ډیر کوشش نه پس هم چې هغوئې اونه موندلے شول نو د هغوئې د سفر د یو ملګري بیان دے چې پهٔ هُغه کال د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خلیفه، شَیرِ بَیشهٔ سُنَّت، حضرت مولانا حشمت علي خان عبید رضوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه هم د حج د پاره تشریف راوړے وو- مونږ د هغوئې پهٔ خدمت کښې حاضر شو او ټوله

معامله مو ورته بيان کړه او عرض مو وکړو چې "تاسو دعا وکړئ چې عبدُ الرحمان راپيدا شي-" حضرت دُعا وکړه او اوئې فرمائيل چې راپيدا به شي (اِنْ شَآءَ اللّٰهُ)- آخر هغۀ د جدّه شريف پۀ يو هسپتال کښې پۀ سيريس [يعني مرکوني] حالت کښې ميلاو شو- هغوئي ګرمی وهلي وو، هغوئي بچ نه شول او هم پۀ هُغه حالت کښې پۀ 14 ذوالحجة الحرام کال 1370 هجری کښې د دې فاني دنيا نه رخصت شو- اِنَّا لِلّٰہِ وَاِنَّاۤ اِلَیۡہِ رٰجِعُوۡن

جس جگہ پر عاشقوں کو موت کی ہے آرزوں کیا ہی مسکن ہے وہ پیارا والدِ عطار کا
جب حلیمی وہ گئے حج پر وہیں کے ہوگئے حج ہوا ایسا نرالا والدِ عطار کا

## د الله والؤ پۀ باره کښې ښه عقيده

د اميرِ اهلِسُنَّت د والد صاحب دوست وائي چې کاش مونږ د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه پۀ خليفه حضرت مولانا حشمت علي خان عبيد رضوي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه صرف د راپيدا کيدو پۀ ځائے داسې دُعا کړې وے چې حاجي عبدُ الرحمان صحيح سلامت ميلاو شي او د خپل کور والؤ خوا له لاړ شي- څۀ پته لګي چې د الله پاک پۀ رحمت دُعا قبوله شوے وے او هغوئي واپس کور ته راغلے وے -

د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِیۡن بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِیۡن صلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## خوش قِسمته حاجي

الله پاک دې د ابو عطار حاجي عبدُ الرحمان (مرحوم) پۀ قبر مبارک د خپلو رحمتونو باران وکړي، مَاشَآءَالله! هغوئي ځومره خوش قِسمته وو چې هغوئي د حج د سفر پۀ وخت د دې دنیا نه سفر وکړو- پۀ حدیثِ پاک کښې د حج د سفر پۀ وخت د وفات کیدونکي ډیر فضیلت بیان شوے دے- د الله پاک خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے: " څوک چې د حج د پاره ووتو او مړ شو، تر قیامته پورې به د هغۀ د پاره د حج ثواب لیکلے شي-"

(معجم اوسط، 93/4، حدیث:5321)

## د بے حسابه بخښنې زیرے

د مکے مدینے تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے: " څوک چې پۀ دې لار کښې د حج یا عمرې د پاره ووتو او مړ شو د هغۀ پیشي به نه کیږي، نۀ به ورسره حساب کیږي او هغۀ ته به وئیلے شي چې تۀ جنّت ته داخل شه-" (مسند ابی یعلی الموصلی ، 152/4، حدیث:4589)

مجھے ہر سال تم حج پر بلانا یارسولَ اللہ    بُلانا اور مدینہ بھی دکھانا یارسولَ اللہ
رہے ہر سال میرا آنا جانا یارسولَ اللہ    بقیعِ پاک ہو آخر ٹھکانا یارسولَ اللہ

(وسائلِ بخشش، ص 333)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مدينے د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ ابو عطار باندې کرم (واقعه)

د امير اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَہ مشرۍ خور فاطمه بائۍ (څوک چې د جُمعې پهٔ ورځ پهٔ 26 ذوالحج شريف 1439 هجری مطابق 7 ستمبر کال 2018ء وفات شوې وه- هغې) د اميرِ اهلِسُنَّت د والدِ محترم د وفات نه پس يو ډير مبارک خوب وليدو، فرمائې چې زهٔ وينم چې بابا جان د ډير نوراني مخ والا بزرګ سره تشريف راوړلو او زما لاس يـې ونيولو او اوئې وئيل: " لورې! تهٔ دا پيژنې؟ دا زمونږ مَدَني آقا، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے-"

بيا نبي رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما سره ډير شفقت ووفرمائيلو او اوئې وئيل: " تهٔ ډيره خوش قِسمته يـې "- د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئې باندې رَحمت وي او د هغوئې پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

واہ واہ کیا ہے رُتبہ ابو عطاؔر کا
ہے کرم ان پر خدا اور میرے سرکار کا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ابو عطار وراثت

د اميرِ اهلِسُنَّت والد صاحب پهٔ جائيداد کښې د 120 ګزه يو پلاټ پهٔ " آدم جي نګر (کراچی) " کښې پريښودو- هٔغه وخت پهٔ هٔغه

علاقه کښې ابادي بالکل نه وه- امیرِ اهلِسُنَّت چې کله لوئي شو نه د خپل مشر وررور مرحوم عبدُ الغني صاحب سره د هغه پلاټ د لیدلو د پاره هم تلے وو- د والد صاحب یو کتاب "تذکرةُ الاولیا" د امیرِ اهلِسُنَّت سره وو، پهٔ کوم باندې چې د والد صاحب نوم لیکلے شوے وو-

## د امیرِ اهلِسُنَّت د خپل والد صاحب د یو دوست سره ملاقات (واقعه)

د امیرِ اهلِسُنَّت د والدِ محترم یو دوست به پهٔ فیډرل بي ایریا [Federal B Area] (کراچۍ) کښې اوسیدو، یو ځل هغهٔ د امیرِ اهلِسُنَّت خوا له شهید مسجد (کهارادر، کراچۍ) چرته چې به هغوئي امامتي کوله راغلو او امیرِ اهلِسُنَّت ته یې ووئیل چې زهٔ ستاسو د والد صاحب دوست یم- چرته زما کور ته هم تشریف راوړئ- د امیرِ اهلِسُنَّت د هغوئي سره نهٔ بیا ملاقات اوشو او نهٔ د هغوئي کور ته لاړو، کنې د هغوئي پهٔ ذریعه به د امیرِ اهلِسُنَّت د والد محترم پهٔ باره کښې د نورو خبرو هم معلومات شوي وو-

## د بابا جان یاد وړوکے شان زړهٔ غمژن کړو (واقعه)

امیرِ اهلِسُنَّت فرمائي چې زهٔ یو ځل پهٔ وړوکوالي کښې د کور پهٔ برنډه کښې ووم- زما پهٔ وړوکي شان زړهٔ کښې دا خیال راغلے چې "تهول ماشومان چا تهٔ باپا باپا [3] (یعني بابا بابا) وائي او ورغاړه وځي بیا د هغوئي

---

[3] ... باپا پهٔ میمنۍ ژبه کښې پلار ته وئیلے شي-

باپا هغوئي پهٔ غيږ کښې اخلي او مينه ورسره کوي، هغوئي له مختلف ښيزونه ورکوي او کله نا کله ورله د لوبو ښيزونه هم اخلي، کاش چې زمونږ پهٔ کور کښې هم يو باپا وے، زهٔ هم هغوئي ته ورغاړه وتلے او زما سره يې مينه کولے- " د دې سوچ سره زما وړوکے شان زړهٔ راډک شو او ما بے اختياره ژړا شروع کړه- زما د ژړا اواز يې چې واوريدو نو زما مشره خور راغله او زهٔ يې پهٔ غيږ کښې واخستم او قلار يې کړم-"

## پهٔ زړهٔ باندې د غم د غلبے وجه

د غريبۍ او يتيمۍ پهٔ حالت کښې د سترګو غړوونکي، د عالمِ اِسلام علمي او روحاني شخصيت اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ زړهٔ باندې اکثر غم غالب وي، د خپل خاندان، مور پلار، د خوئيندو وروڼو سره محبت د انسان فِطرت دے- پهٔ وړوکوالي کښې د والدِ محترم وفات کيدل، د يتيمۍ پهٔ حالت کښې روزنه پالنه، د غريبۍ پهٔ وجه هم پهٔ ماشومتوب کښې کار روزګار شروع کول، پهٔ ځوانۍ کښې د کور يواځې پالنه، د پلار د سوري د سر نه تلل، د مشر ورور د ټرين پهٔ حادثه کښې وفات کيدل بيا يې د ټولو نه زياته مينه محبت کوونکي هستي، مور بي بي هم وفات شوه- (4) دې غمونو او پريشانو پهٔ زړهٔ باندې داسې اثرات پريښودل چې زړهٔ پهٔ غمونو اره اره شو- پهٔ دې حالت کښې هغوئي د خپل

---

[4] ... د اميراهلسنت د مور بي بي د سيرت پهٔ باره کښې د معلوماتو حاصلولو د پاره د مکتبة المدينه رساله "فيضان اُمِّ عطار" ولولئ يا يې د دعوتِ اسلامى د ويب سائټ www.dawateislami.net نه مفت ډاؤن لوډ کړئ-

شفيق او مهربان آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ بارګاه کښې د درد نه ډکو الفاظو کښې د شعرونو پۀ شکل کښې فرياد کړے دے:

گھٹائیں غم کی چھائیں، دل پریشاں یا رسولَ اللہ
تمہیں ہو مجھ دُکھی کے دُکھ کا دَرماں یا رسولَ اللہ

میں ننھا تھا، چلا والد، جوانی میں گیا بھائی
بہاریں بھی نہ دیکھی تھیں چلی ماں یا رسولَ اللہ

سفینے کے پَرخچے اُڑ چکے ہیں زورِ طوفاں سے
سنبھالو! میں بھی ڈوبا اے مری جاں یا رسولَ اللہ

نسیمِ طیبہ سے کہدو دلِ مضطر کو جھونکا دے
غموں کی شام ہو صُبحِ بہاراں یا رسولَ اللہ

(وسائلِ بخشش، ص347)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د والد صاحب تدفين

پۀ کوم کال چې د اميرِ اهلِسُنَّت والد صاحب وفات شو، وئيلے کيږي چې پۀ هغه کال ډير حاجيان صاحبان د ګرمې هوا پۀ وجه وفات شوي وو- پۀ هغوئي کښې د اميرِ اهلِسُنَّت والدِ محترم پۀ 14 ذي الحج شريف وفات شو او هغۀ د جدّه شريف پۀ يوه هديره کښې دفن کړے شو- الله پاک دې هغوئي اوبخښي- (تذکرہ امیراہلِ سنت ، قسط :29 بتغیر)

## پۀ ميمنی ژبه کښې د لفظونو ورانول

د نورو ژبو پۀ شان پۀ ميمنی ژبه کښې هم الفاظ او نومونه ورانولے شي، پۀ قرآني الفاظو او د عربی پۀ نومونو کښې د خاص احتياط ضرورت دے، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ووفرمائيل: عبدُ الرحمان ته به زمونږ د ميمنی ورورولی بعضې خلقو مَعَاذَ الله! "آدھ رے مان" وئيلو- داسې نه دي کول پکار

بلکې چې کوم نوم وي نو هغه وئيل پکار وي- عبدُ الرحمان نوم خو ډېر ښکلے او مقدس نوم دے، د الله پاک د مبارک نوم د نسبت په برکت د دې نوم زيات ادب کول پکار دي-

## د خپل آبائي کلي سره محبت

د اميرِ اهلِسُنَّت د مور پلار آبائي کلے "کُتيانه" (کُت، يانه) جُونا ګړه، ګُجرات، هندوستان دے، د انسان په فطرتي طور د خپل آبائي کلي سره محبت وي، هغوئي چرته خپل آبائي کلي ته تشريف نه دے وړے، د دعوتِ اِسلامي ذِمه داران يو ځل هلته تلي وو او د اميرِ اهلِسُنَّت د مور بي بي د ايصالِ ثواب سلسله يې کړې وه او د هغې ويډيو يې د مَدَني چينل په مشهور پروګرام "مدني مذاکره" کښې لګولې وه نو اميرِ اهلِسُنَّت فرمائيلي وو: زما ډېره خوښه شوه، کاش چې ما هم خپل آبائي کلے ليدلے وے- (ياد ساتئ چې د اميرِ اهلِسُنَّت د مور بي بي مزار د کراچۍ په مشهوره هديره ميوه شاه کښې دے-)

## د مور پلار د نيکۍ اثر

الله پاک په قرآنِ کريم کښې په پينځلسمه سيپاره سورةُ الکهف کښې د حضرت خضر عَلَيْهِ السَّلَام د دوو يتيمانو ماشومانو د خزانے بچ کولو واقعه بيان کړې ده کومه چې په تفصيل سره په "تفسير صراطُ الـجنان" يا د مکـتبة الـمدينه په رساله "پراسرار خزانه" کښې لوستے شئ- په تفسيرونو کښې د دې واقعې لاندې ليکلي دي چې د هغه يتيمانانو ماشومانو چې په اوومه يا لسمه پيړۍ کښې کوم پلار وو هغۀ نيک انسان وو او د هغوئي د نيکۍ په

برکت د هغه اووه یا لسو پیړو نه پس په راتلونکو ماشومانو باندې کرم وشو- باني دعوتِ اِسلامي حضرت علامه مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د دې صدۍ عظیم بزرګ دے- د هغوئي د مور بي بي ذِکرِ خیر په "فیضانِ اُمِّ عطار" نومې رساله کښې بیان شوے دے، هغهٔ د الله پاک نه ډیره ویریدونکې، په کور کښې ډیر ځل د غوثِ پاک حضرت شیخ عبدُ القادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هره میاشت د یولسم شریف کوونکې، د حقوق العباد په معامله کښې ویریدونکې نیکه زنانه وه او د امیرِ اهلِسُنَّت بابا جان هم نیک او پرهیزګاره انسان وو- څهٔ پته لګي چې امیرِ اهلِسُنَّت ته چې نن په دُنیا کښې کوم عظیمُ الشان مقام حاصل دے دا د مور پلار د نیک اعمالو په برکت عطا کړے شوے وي- حضرت عبدُ الله ابنِ عبّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهما فرمائي: "بے شکه الله پاک د انسان د نیکۍ نه د هغهٔ د اولاد او د هغوئي د اولاد د اولاد اِصلاح فرمائي او د هغهٔ په نسل او د هغهٔ په ګاؤنډیانو کښې د هغهٔ حفاظت فرمائي او هغه ټول د الله پاک له خوا په پرده او امان کښې وي-"
(تفسیر در منثور ، 422/5)

## د امیرِ اهلِسُنَّت دیني خدمات

د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه دیني خدمات زماني ته معلوم دي او مني یې هم، د هغوئي په محنت او کوشش باندې د الله پاک د خوږ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عشق او د سُنَّتو او د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه حق مسلک ډیره وده کړې ده- په لکونو ځلمو په مخونو ګیرې پریښې دي او په سرونو یې عمامه شریف تړلې ده او د

سُنَّتو مطابق ژوند تیرونکي جوړ شوي دي، پهٔ لکونو اِسلامي خوئیندو د غیر شرعي فیشن او بے پردګۍ نه توبه کړې ده او اِسلامي پرده یې اختیار کړې ده- اللّٰهُ ربُّ العِزّت دې د امیرِ اهلِسُنَّت لګولے شوے دا باغ تر قیامته پورې اباد او د مدینے د سدا بهار ګولونو پهٔ وسیله خوشبوداره لري او د هغوئي مور پلار چا چې پهٔ اصل کښې زمونږ سره احسان کړے دے هغوئي ته دې د دې ډیر اجر او ثواب ورسوي- اللّٰه پاک دې د هغوئي پهٔ وسیله نور مور پلار ته هم د اللّٰه پاک او د خوږ آقا عزوجل و صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ لار د تللو او د خپل اولاد د روانولو توفیق ورعطا کړي-

اٰمِیۡنۡ بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِیۡن صلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

جن کا بیٹا سنیوں کے دل کی دھڑکن بن گیا ⁂ مل گیا ہم کو اُتارا والدِ عطار کا

## پهٔ سلسلهٔ قادریه کښې د مُرید او طالب جوړېدو برکت!

د غوثِ پاک حضرت شیخ عبدُ القادر جیلاني رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه فرمان دے: اللّٰه پاک زما سره وعده فرمائیلې ده چې زما مُریدان به جنّت ته داخلوي- (بہجة الاسرار، ص 193 ملخصاً)

سُنا لَاتَخَفۡ تیرا فرمانِ عالی! ⁂ غلاموں کی ڈھارس بندھی غوثِ اعظم

## فیضانِ ابو عطار جومات

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تحریک د دعوتِ اِسلامي مجلس "خدامُ المساجد و المدارِس" پهٔ ټوله دنیا کښې پهٔ سوونو نهٔ بلکې پهٔ زرګونو

جوماتونه جوړ کړي دي- د الله پاک په فضل او کرم باندې د وړومبي جون کال 2024 د کارکردګۍ مطابق اندازتاً روزانه د یو نیم نه تر دوو جوماتونو سلسله روانه ده، که چرته پلاټ اخستے کیږي نو چرته د جومات افتتاح کیږي، که چرته یو جومات جوړیږي نو چرته نـمونځونه شروع شوي دي- د امیرِ اهلِسُنَّت د والدِ محترم د ایصالِ ثواب د پاره د ساؤتھ افریقي د جوهانسبرګ ښار په "**سویټو**" (Soweto) علاقه کښې "**فیضانِ ابو عطار**" نومي جومات جوړ کړے شوے دے- د دعوتِ اِسلامي د مرکزي مجلسِ شوریٰ نګران حاجي محمد عمران عطاري مدظله العالي ووفرمائيل چې په دې جومات کښې روزانه اوسطاً دوه غیر مسلمه راځي او ایمان راوړي، (د جومات ګیر چاپیره د غیر مسلمو ابادي هم ده) د هٰغه جومات امام صاحب هم وړومبے غیر مسلمه وو، یو ځو کاله مخکښې هغهٔ مسلمان شو او د دعوتِ اِسلامي د مدرسـةُ الـمدینه نه یـې قرآنِ کریم حفظ کړو او بیا یـې د جامـعةُ الـمدینه په ذریعه درسِ نظامي (یعني د عالِم کورس) وکړو او مَدَني جوړ شو او اوس په فیضانِ عطار جومات کښې امامتي کوي-

اللہ! کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں　　اے دعوتِ اسلامی تِری دھوم مچی ہو

(وسائلِ بخشش، ص 322)

## مشورةً عرض دے

اَلْحَمْدُلِلّٰه! شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د دې وخت ډیر لوئي علمي او روحاني شخصیت دے د چا په برکت چې په زرګونو غیر مسلمه

مسلمانان شول، د لکونو مسلمانانو ژوند بدل شو او هغوئي د سُنَّتو پۀ لار روان شول، د مسلمان د خير خواهئ د جذبې لاندې زما **مَدَني مشوره** ده چې تاسو هم د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ ذريعه د سيّدي حضور غوثِ پاک شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مُريد جوړ شئ او که تاسو د وړاندې نه د چا پير صاحب مُريد يئ نو د بيعت د برکت حاصلولو د پاره طالب شئ، پۀ خپلو بچو باندې هم بيعت وکړئ، د خپل کور هر کس بلکې هر اشنا کس د دې نيک کار د پاره تيار کړئ- پۀ مُريد جوړيدو هيڅ نه خرچ کيږي، پۀ مفتو کښې د ډير ثواب خزانه پۀ لاس راځي او د دُنيا او د آخرت بے شميره برکتونه نصيب کيږي-


## د WhatsApp پۀ ذريعه مُريد جوړ شئ:

د مُريد جوړيدو يا بَل څوک د مُريد جوړولو د پاره د هغۀ نوم او د پلار نوم او عمر وليکئ او پۀ 923212626112+ يــې وټس ايپ کړئ- ❀ پۀ دې نمبر باندې کال نه ريسيو کيږي، صرف پۀ ليکلي شکل کښې دا تفصيل راوليږئ-

## د اميراهلسُنَّت د والدِ محترم پۀ شان کښې يو څو شعرونه

چار پائی بھی قصیدہ سن کے ہوتی تھی بلند   پڑھنا ہے ایسا انوکھا والد عطار کا
تھے وہ حاجی اور نمازی باشرع تھی زندگی   تھا عقیدہ یا نبی کا والد عطار کا
جن کا بیٹا سنیوں کے دل کی دھڑکن بن گیا   مل گیا ہم کو اُتارا والد عطار کا
جس جگہ پر عاشقوں کو موت کی ہے آرزو   کیا ہی مسکن ہے وہ پیارا والدِ عطار کا
جب حلیمی وہ گئے حج پر وہیں کے ہوگئے   حج ہوا ایسا نرالا والدِ عطار کا

د راتلوکې هفتې رساله




978-969-722-667-2
01082498

فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net